**مرکزي مطبوعاتي دفتر: د خلافت د سقوط د کليزې د يادښت په مناسبت د نړيوالو فعاليتونو پوښښ**




الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾** [نور: ۵۵]

***ژباړه:*** *الله هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی او نېک کارونه کوي، وعده ورکوي چې هغوی ته به د ځمکې خلافت ورکوي، لکه څنګه يې چې له دوی څخه مخکينيو ته ورکړی و. همدارنګه هغه دين چې دوی ته يې خوښ کړی، هرو مرو به يې په ځمکه کې حاکموي او ريښې به يې کلکوي او وېره به يې په امنيت او ارامتيا بدلوي، لکه څنګه چې يوازې د الله عبادت کوي او څه شی نه ورسره شريکوي. څوک چې (له دې وعدې) وروسته کافران کېږي، هغوی فاسقان دي.*

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«تكون النبوة فيكم ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها الله إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج النبوة فتكون ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها الله إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون ملكًا عاضًا فيكون ما شاء الله أن يكون، ثم يرفعها إذا شاء الله أن يرفعها، ثم تكون ملكًا جبرية فتكون ما شاء الله أن تكون، ثم يرفعها الله إذا شاء أن يرفعها، ثم تكون خلافة على منهاج النبوة ثم سكت.»** *(رواه احمد)*

***ژباړه:*** *تر کله چې د الله خوښه وه، په تاسو کې به پيغمبري پاتې شي او کله چې الله سبحانه وتعالی وغواړي، هغه درڅخه اخلي. تر هغې وروسته به نبوت پر تګلاره خلافت وي او تر کومه وخته چې د الله سبحانه وتعالی خوښه وي، ادامه پيدا کوي، بيا چې کله الله وغواړي هغه اخلي. بيا ميراثي حکومتونه راځي او تر کله چې د الله خوښه دوام به کوي او کله چې الله وغواړي له منځه يې وړي. بيا به جبريه او ظالم حکومتونه راشي، تر کله چې د الله خوښه وي، دوام به وکړي، بيا چې کله الله وغواړي، لرې کوي يې او يو ځل بيا د نبوت پر تګلاره خلافت راځي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم چوپ شو.*

کله چې انسان پورتنی آيت تلاوت او په حديث کې تدبر وکړي، بيا امت او خلافت ته يو نظر وکړي، عاملين او مخلصين يې د تاسيس په اړه يوازې الله سبحانه وتعالی ته هيله لري او د هغه سبحانه وتعالی په مرسته تل د خپلې ورکې لپاره هڅې کوي. نو حزب التحرير؛ هغه ډله چې هېڅکله خپل اهل ته دروغ نه وايي، پر ځوانانو يې د ظالمانو پر ظلم لکه تعذيب او شکنجې او خورا سخت عذاب حتی شهادت سربېره بيا

هم دغه حزب د چا له وېرې پرته په خپل مسیر مخ ته ځي. پر دې سربېره دغه ټول واقعیتونه د نصرت د راتګ زېری ورکوي او د هغه سبحانه وتعالی نصرت د راڅرګندېدو په حال کې دی. د راشده خلافت قدمونه له اوږده غیابت څخه وروسته د ښکارېدو په حال کې دي او د مسلمانانو د عزت دروازې د هغه سبحانه وتعالی په مرسته د پرانیستو په حال کې دي.

نو پر دغه مناسبت حزب التحریر د روان ۱۴۳۹هـ.ق په رجب میاشت کې د ظالمانو او خاینانو په وسیله ۱۳۴۲هـ.ق کې د رجب په ۲۸مه د خلافت د سقوط د دردناکې کلیزې په مناسبت، په ټولو خاورو کې چې حزب فعالیت پکې لري، خپل فعالیتونه پیل کړي او په دې برخه کې د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د دې پاڼې له ادرسه د پراخو فعالیتونو پوښښ پیلوي. له الله سبحانه وتعالی غواړو چې زموږ راتلونکي فعالیتونه ان‌شاء الله د نصرت او خیر زېری ورکړي، چې مسلمانان له هغه وروسته وکولی شي تر څو خپل خلیفه وټاکي، الهي احکام پلي او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې جهاد او مبارزه وکړي. بېشکه چې دا کار الله سبحانه وتعالی ته سخت نه دی.

**﴿وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لاَ يَعْلَمُونَ﴾** [یوسف:۲۱]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی پر خپل کار برلاسی او مسلط دی؛ خو زیاتره خلک نه پوهېږي.*

**۱۴۳۹هـ.ق، د رجب ۱۲مه، جمعه**

**۲۰۱۸م، د مارچ ۳۰مه**

**ژباړن: خالد ایثار**